AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ولي الله ملکزی
۲۰۱۹/۰۳/۱۳

# هـیـلـه

هیله ژوند دی، هڅه ده او باور دی. هیله عشق دی، ساز دی، نغمه ده او ترانه ده. هیله نیک شګون دی، فال دی، اسره ده او سکون دی. هیله د ژوند، ژوند کولو او ژوند ښتلو ښکلی هنر دی. هیله د خلا او رڼا داسې بځرکی دی چې لمرې په زړه کې د ډاډ یو کوچنی کورګی جوړکړي او بیا د موسکا په بڼه، په مخ را څرګنده شي. هیله یو تخنونکی احساس دی چې د ستونزو او ګواښونو په وړاندی، د صبر او مقاومت مورچل تود او باتور ساتي. هیله انسان له ترږمی، لټی او پښیمانۍ را باسي او د عزم، دبدبې او د بري شاخص ورته په ګوته کوي. هیله د غم په شیبو کې تر ټولو ښه درمل، د بی کسۍ غوره علاج او د الله تعالی له سترو نعمتونو څخه یو نعمت دی.
خو هیله، خیال پلو ندی او نه هم په ویښه د خوب لیدلو په مانا ده. موږ د سلیمان (ع) په زمانه کې نه اوسو چې دیوان او پیریان به د بلقیس تخت په اوږه او د سترګو په رپ کې له عدن څخه فلسطین ته را ورسوي، نو باید څموږ هیلې د عقلانیت او امکان د چوکاټ دننه واوسي. هیله بالښت ندی چې د سر لاندی کیښودل شي، بلکې هغه د سفر پیل او د هدف په لور تکل دی. د ملګرتیا انګړ باید پراخه او د هر اشنا او ناشنا درناوی دی وشي، خو په هر چا اعتبار کول او له هر چا هیله لرل، هوښیارتیا نده.
که یو دوست په ناپوهی کې ستا سره جفا وکړي نو ویی ښنه، خو که دویم ځل دی بیا دوکه کړي نو په هغه پوری زړه تړل او له هغه یا هغې څخه د نیکې هیلې تمه لرل، حماقت او ناپوهي ده. هیڅکله باید ټول امیدونه په یو تن پورې ونه تړل شي تر څو تالا ترغی نشي. لیوالتیا او هیله د هغې غوټۍ په شان ده چې تل یې د ګل کیدو تمه کیدای شي، خو کله ناکله یی تیز بادونه او سیلی رژولی هم شي. هر څه ته په مثبت ډول کتل، د انسان په ذهن او زړه کې د امید ستنې مزبوتوي.
که یو سړی مال وبایلي نو یوه برخه به یی بیا هم پاتې وي، خو که هیله له لاسه ورکړي نو بیا یی هر څه په سیند لاهو شول. هغه څوک چې په زړه کې ایمان او هیله نلري، په حقیقت کې هغه د نړی تر ټولو مفلس او بی وزلی انسان دی. هیله مند انسان تل فکر کوي چې ګیلاس نیم ډک دی، خو نهیلی کس همدغه ګیلاس نیم تش بولي.
وینسټن چرچل وایي: نهیلی انسان هر فرصت ته د ستونزی له زاویې ګوري، خو هیله مند انسان هره ستونزه یو نوی فرصت ګڼي. او نلسن منډیلا وایي: زړه سواندي انسانان خو له پخوا راهیسی یو له بل سره د شفقت په مزبوتو رسیو تړل شویدي، ولی څومره به ښه وي که د بشري ټولني بی عاطفي خلک د ښو هیلو په مزي سره وتړل شي تر څو د غمونو او ستونزو بار سپک شي.
رښتیا هم چې د ټولو هیلو زیږنده او سرچینه، د الله تعالی په ذات کلک ایمان لرل او پخپل ځان اعتماد کول دي. په عین حال کې، د الله تعالی څخه له ویرې پرته، د انسان تر ټولو ستر دښمن ډار او نا امیدي ده. د امید خوند او زور هله څو چنده کیږي، کله چې یو انسان نا امیده او نیمه خوا شي. ارواه پوهان پدی باور دي چې مایوسي د هیڅ درد، درمل ندی بلکې نا امیدي درد لا زیاتوي، تیونه نور ژوروي او اندیښنو ته لاره هواروي. د دوئ په آند، د یواځې توب او سوچ په مهال، باید د ژوند په مثبتو اړخونو فکر وشي او له هغه چا مشوره واخیستل شي چې په سر کې پوهه او په زړه کې مینه لري. د سترو او تاریخي شخصیتونو ژوند دی مطالعه کړي چې هغوئ هم زما په څیر انسانان وو، څرنګه دی مقام ته ورسیدل؟ همدا فکر د هیلې دروازې پرانیزي او منزل ته مزل اسانوي.
د هیلې په هکله د قرانکریم کې یو مبارک آیت دی چې ( قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّـهِ إِنَّ اللَّـهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ - ای پیغمبره! څما هغو بنده ګانو ته ووایه چا چې پخپلو ځانونو تیري کړی، زما له رحمت څخه مه مایوسه کیږئ ځکه چې الله ټول ګناهونه ښښي او هغه ډیر ښښونکی او رحم کونکی دی).
له بله پلوه، کله چې د حضرت یعقوب مشرانو زامنو د هغوئ ناسکه کشر وړور حضرت یوسف په کوهي کې واچولو او پلار ته یی درواغ وویل چې هغه خو لیوه وخوړ، نو دغه سپین ږیری او په سترګو ړوند پیغمبر نهیلي او لاس


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

ترزني نه شو، بلکې زامنو ته یې داسې وویل ( يَٰبَنِيَّ ٱذۡهَبُواْ فَتَحَسَّسُواْ مِن يُوسُفَ وَ أَخِيهِ وَ لَا تَاْيۡـَٔسُواْ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ لَا يَاْيۡـَٔسُ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ - ای زامنو ولاړ شئ یوسف او د هغه ورور ولټوئ او د الله له مهربانۍ څخه مه نا امیده کیږئ، ځکه د هغه له مهربانۍ څخه یواځې بې ایمانه خلک مایوسه کیږي) همدارنګه د حضرت رسول علیه السلام صحیح
حدیث دی چې ( إنَّ حسن الظَّنِّ بالله من حسن العبادة - د الله په ذات ښه ګمان کول او له هغه څخه هیله لرل، ښه عبادت دی).
له بده مرغه، ۱۳۹۷هجري لمریز کال مو له ویرونو، غمونو او بمونو ډک کال وو، خو ۱۳۹۸ کال چې یواځې یوه اونۍ له موږ څخه لرې دی، هغه به د سولې، سوکالۍ او ښیرازۍ کال وي. ټول هیله مند یو چې د څلویښت کلن خونړۍ جنګ لوغړن ټغر به ټول شي، قسم خوړلي، غولیدلي او پلورل شوي جګړه ماران به بالاخره د خپل آخرت پخاطر له ورور وژنې څخه لاس واخلي. د ولس ټولې پرګنې او توکمونه به د افغانستان د ښکلي درې رنګه سپیڅلي بیرغ لاندې، د خپل ویجاړ هیواد د رغون او سمون لپاره یو غږ او یو قدم شي. ځکه ټول پوهیږو چې پرون ولاړ او ددې ویاړلي ولس سبا، همدا نن پیل شویدی.
نهیلو خلکو ته پکار ده چې لږ تر لږه د هغه افتاب پرست ګل په اندازه همت ولري، چې د باران په ورځ هم هغې خوا ته ګوري په کوم لوري چې لمر په وریځو کې پټ وي، مګر بیا یې هم د امید سترګې اسمان ته بوټې نیولې او هیله مند وي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ